
**بسم الله الرحمن الرحيم**

## قوي مومن تر کمزوري مومن غوره دی




**(ژباړه)**

له حضرت ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«الْمُؤْمِنُ الْقَوِيُّ، خَيْرٌ وَأَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنَ الْمُؤْمِنِ الضَّعِيفِ، وَفِي كُلٍّ خَيْرٌ احْرِصْ عَلَى مَا يَنْفَعُكَ، وَاسْتَعِنْ بِاللهِ وَلَا تَعْجَزْ، وَإِنْ أَصَابَكَ شَيْءٌ، فَلَا تَقُلْ لَوْ أَنِّي فَعَلْتُ كَانَ كَذَا وَكَذَا، وَلَكِنْ قُلْ قَدَرُ اللهِ وَمَا شَاءَ فَعَلَ، فَإِنَّ لَوْ تَفْتَحُ عَمَلَ الشَّيْطَانِ».**

(رواه مسلم، باب فی الامر بالقوه و ترک العجز)

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی ته له کمزوري مومن څخه غښتلی او ځواکمن مومن غوره دی او په هر يوه کې بيا خير نغښتی دی. د هر هغه څه لپاره هڅه کوه او حريص اوسه چې خير درته رسوي، له الله سبحانه وتعالی څخه مرسته غواړه او ناتوانه کېږه مه. هر وخت چې څه درته رسېږي، داسې مه وايه چې که مې داسې کړي وی، دغسې او هغسې به شوي وای؛ بلکې ووايه چې الله سبحانه وتعالی مقدر کړي او څه چې وغواړي سرته يې رسوي؛ ځکه د «که چېرې» کلمه د شيطان د وسوسو دروازه پرانيزي.*

رسول الله صلی الله عليه وسلم دلته هغه حالت بيانوي چې د يوه مومن لپاره اړين دی؛ نو مومن بايد په خپل ايمان کې غښتلی وي، په دې اساس چې خالق يې الله سبحانه وتعالی دی او کمزوری کوي يې نه. په پوره

ځواک او ثابت ایمان سره د باطل پر وړاندې درېږي او د الله سبحانه وتعالی په لار کې د ملامتوونکو له ملامتیا څخه نه وېرېږي. خپل عملونه په همدغه ثابت ایمان سره ترسره کوي؛ په تېرو پسې نه ګرځي، بلکې د راتلونکې په اړه فکر کوي.

**اې مسلمانانو!** ایمان د مسلمان ځواک دی چې په هر حالت کې یې د الله سبحانه وتعالی اوامرو او حدودو پیروۍ ته اړ کوي. د ژوند ستونزې او اسانتیاوې مسلمان نه کمزوری کوي؛ د باطل پر وړاندې غلی نه کېني، هر ناوړه عمل ته نه ځواب وایي او هر وخت هغه څه ته غاړه ایږدي چې الله سبحانه وتعالی یې امر کړی. خو نن چې اسلامي امت د حکامو تر ظلم لاندې ژوند کوي، خپل ځواک او نهضت ته نشي رسېدلی؛ ځکه ظالم چارواکي داسې دروغجن خبرونه خپروي، څو امت د دوی پر وړاندې د سیاسي مبارزې او د خیانتونو د بربنډولو تر څنګ، له جدیت، اساسي بدلون او هغو کسانو څخه لېرې وساتي چې د بماانزل الله حکم د بیا راتلو لپاره کار کوي؛ په داسې حال کې چې د اسلامي خلافت د بیا راتلو لپاره الله سبحانه وتعالی ژمنه او رسول الله صلی الله علیه وسلم زېری ورکړی.

**ژباړن: منصور دریځ**